**مطبوعاتي اعلاميه**

# شیطانانو د الواقیه ټلوېزیوني چینل فېسبوک پاڼه بنده کړه

د کینه کښو شیطانانو لاسونه یوځلې بیا د هغه چینل تر بندولو پورې ورسېدل چې یوازې حقیقت وړاندې کوي. د الواقیه ټلوېزیوني چینل فېسبوک پاڼه د ۲۰۲۰ م کال، د اپرېل پر ۱۵ مه په داسې حال کې وتړل شوه چې د تعقیب کوونکو شمېر یې ۲۷۷ زرو ته رسېدلی و.

الواقیه ټلوېزیوني چینل د حزب التحریر لخوا په امت کې د نبوت پر تګلاره د ریښتیني خلافت د تاسیس د هدف د خپرولو په موخه رامنځته شوی دی. د دغه ټلوېزیوني چینل د صفحې تړل د اسلامي امت او د ریښتیني خلافت د تاسیس پر وړاندې د دښمنانانو ژوره کرکه څرګندوي.

دغه ړنده کرکه دا په ډاګه کوي چې الواقیه ټلوېزیوني چینل په ریښتیا هم د خپل نامه «الواقیه=ساتونکي» په څېر کار ترسره کړی دی او د دغه ټیم غړو شپه او ورځ ددې لپاره کار کړی، تر څو اسلامي امت ته د دښمنانو دسیسې رسنیزې او د هغه پر وړاندې د امت د پوهاوي کچه لوړه کړي.

دغه چينل د حزب التحرير هغه مطبوعاتي کمپاينونه هم پوښل چې امت يې د نبوت پر منهج د دويم راشده خلافت د تاسيس په موخه د کار لپاره هڅوه. همدارنګه دغه چينل به د هغه روڼ اندو، فقهاوو او سياسونو کوربه و، ترڅو امت ته د پېښو تحليل، د نظريو شننه او د پښېدونکو حادثو پر اړه د شريعت دريځ روښانه کړي. د دې ترڅنګ دغه چينل هڅه کړې چې ډېر نور تعليمي مواد د بهترينه رسنيز مېتود له لارې اسلامي امت ته وړاندې کړي.

حزب التحرير د الله سبحانه وتعالی پر بريا باور لري، ځکه خو مو د الله سبحانه وتعالی د رضا د ترلاسه کولو لپاره دغه چينل جوړ کړی و  او بيا مو اسلامي امت ته د يوې سپېڅلې موخې «د خلافت تاسيس» چې د اسلام دښمنان يې سخت په غوسه کړي او د دوی خوب يې نا ارامه کړی دی، وړاندې کړ. هو موږ دې ډول ګواښونو ته اماده يو؛ ځکه الله سبحانه وتعالی د امت مخلص کسان له دا ډول برخليک سره مخ کوي. هغوی چې نيک کارونه ترسره کوي، نو الله سبحانه وتعالی د دوی پر لاس هغه شيان تر سره کوي چې ظالمان پرې غوسه کېږي. هو له دوی وړاندې دلته نور دښمنان هم وو، دوی هم پوره هڅه وکړه چې د امت دغه ډېوه مړه کړي، خو مايوسه شول؛ ځکه وخت يې تېر شوی او لمر يې پر پرېوتو و. په داسې حال کې چې دعوت د هغه نور څراغ دی چې امت ته يې د الواقيه ټلوېزيوني چينل وړاندې کړی او دغه چينل امت ته تل د دښمن د شديدې کينې سره سره د (ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةٌ عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ) ژباړه: «له هغه وروسته به د نبوت پر منهج خلافت تاسيس شي) پر ويلو سره اتمنان ورکړی».

**د الواقیه ټلوېزیوني چینل د تعقیب او نورو اړینو پروګرامونو لپاره لاندې لېنکونه کتلی شئ:**

www.alwaqiyah.tv

www.youtube.com/AlwaqiyahTV

www.facebook.com/alwaqiyahtube

www.twitter.com/AlwaqiyahTV

**انجینیر صلاح الدین عضاضه**

**د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتی دفتر ریس**

**۱۴۴۱ هـ .ق کال، د شعبان ۲۴مه**

**۲۰۲۰ م کال، د اپرېل ۱۷مه**

**د صدرو شمېره: ۲۰/۱۴۴۱**